دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسي ته امر کوي چي امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چي کله مو د خلکو په مينځ کي پريکړه او حکم کاوئ، نو بايد په عدل او انصاف سره يې وکړئ. بيشکه الله پاک تاسي ته ډېر ښه نصيحت کوي. او الله پاک ښه اوريدونکي او ښه ليدونکي دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از جابر (رضی الله عنه) روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: از ظلم بپرهیزید، زیرا ظلم تاریکی های روز قیامت است. و از آزمندی بپرهیزید، زیرا آزمندی مردمی را که پیش از شما بودند، هلاک ساخت، وادار شان کرد، تا خونهای شانرا بریزند، و محارم شانرا حلال شمارند. (الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۸ مه ګڼه، پرله پسې ۲۵۲ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د غوبی ۲۳ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د رجب المرجب ۱۳ مه د ۲۰۱۴ م د مې ۱۳ مه

ارغندیوال، رئیس حزب اسلامی افغانستان:

ما به هیچکس دیگری اجازه نمیدهیم که نامِ حزب اسلامی افغانستان را بخاطر منافع شخصی و یا گروهی خود استفاده کنند

متن کامل کانفرانس مطبوعاتی عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان مؤرخه ۲۰ ثور ۱۳۹۳ هـ ش

ژورنالستان عزیز القدر، حضار گرامی!
السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!
همانطوریکه مستحضر اید بروز جمعه مؤرخه ۱۹ ثور در هوتل انترکانتیننتال عده یی از افراد بنام شوراهای حزب اسلامی افغانستان گرد هم آمده و حمایت خود را از تیم تحول و تداوم به رهبری داکترصاحب اشرف غنی احمدزی اعلان نمودند، که در میان افراد مذکور کسانی هم به نظر می رسید که سالها قبل از صف حزب اسلامی افغانستان بریده اند و عدهٔ دیگری گروه جداگانه را تشکیل داده اند که هیچکدام با حزب اسلامی افغانستان رابطه یی‌ندارند.
به منظور وضاحت و عدم مغشوش شدن اذهان عامه مجبور شدیم تا به وضاحت آتی بپردازیم:
۱- تشکیلات و سازمانی به اسم اتحاد شوراهای ...

(ص، ۳)

اعلام حمایت داکتر زلمی رسول از تیم اصلاحات و همگرایی

کابل، رسانه ها:
تیم انتخاباتی اعتدال، برابری و سازندگی به رهبری داکتر زلمی رسول با تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی به رهبری داکتر عبدالله عبدالله پیوست.
آقای رسول می گوید که دیدگاه های تیم وی با تیم انتخاباتی داکتر عبدالله عبدالله در بسیاری موارد مشترک است.
آقای رسول موقف گیری و پیوستن تیم اش با تیم داکتر عبدالله عبدالله را تعیین کننده می داند و می افزاید که در آوردن صلح و امنیت دایمی در کشور تلاش خواهند کرد.
داکتر زلمی رسول خاطر نشان می سازد که تیم اعتدال، برابری و سازندگی برای جلوگیری کردن از قومی شدن انتخابات با تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی پیوسته است.
از سویی هم داکتر عبدالله عبدالله رهبر تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی از پیوستن ...

(ص، ۴)

د اصلاحاتو او همپالنې ټیم:

له ۹۰۰ زره د ډېرو رايو برخليک بايد معلوم شي

کابل، پژواک:
د ډاکټر عبدالله په مشرۍ د اصلاحاتو او همپالنې ټاکنيز ټيم معلومات خرګندوي، چې د ټاکنو د بېلابېلو پروسو په پړاوونو کې پراخه درغلي شوي او له ۹۰۰ زرو څخه د ډېرو رايو برخليک نامعلوم دی.
دغه ټاکنيز ټيم د دوشنبې په ورځ د يوې خبري ناستې په ترځ کې رسنيو ته داسې اسناد وړاندې کړل، چې د ټاکنو په پروسه کې پراخه درغلي او تېروتنې په ګوته کوي.
په دغو اسنادو کې، د محلونو د جوړولو او بېلابېلو ولايتونو کې د رايې ورکولو د پاڼو د لېږد، د ټاکنو خپلواک کمېسيون د رايې ټولونې په مرکز کې لاسوهنه، په تکراري ډول د پاڼو د فورمو ثبتول او د خانګړي کانديد په ګټه د مرکزونو د رايو په ناسمه توګه ...

(۴ مخ)

نور: د انتخاباتو وروستی پايلې به په خپل وخت اعلان شي

کابل، رسنۍ:
که څه هم د انتخاباتي شکايتونو کميسيون د خپلو څېړنو نتايج د انتخاباتو خپلواک کميسيون ته نه دي سپارلي خو د انتخاباتو خپلواک کميسيون چارواکي وايي، چې دوی ژمن دي چې د انتخاباتو وروستي نتايج به خپل وخت اعلان کړي.
له پخواني مهالويش سره سم دا نتايج بايد د راتلونکې چهارشنبې په ورځ اعلان شي.
بل خوا فيفا يا د افغانستان د ازادو او عادلانه انتخاباتو موسسه د انتخاباتو د نتيجو په اعلان او څېړنو کې ځنډ د قانون خلاف عمل بولي.
ټاکل شوې وه، چې د انتخاباتي شکايتونو کميسيون د خپلو څېړنو نتايج د ثور په شلمه د انتخاباتو خپلواک کميسيون ته سپارلي وای خو تر ننه پورې دا کار ځنډېدلی دی. ...

(۴ مخ)

اميدها را بنوميديها ميکشانند

فدامحمد فايض

((حقيقت آن است، آنقدر که ملت برای انتخابات اميدوار بود و برای فرا رسيدن روز انتخابات دقيقه شماری ميکرد، چنانچه آنرا در عمل هم ثابت کرد؛ ولی امروز به همان پيمانه مردم ما نسبت به آينده نااميد ميشوند و اجراآت در پيوند با پروسهٔ انتخابات را پديدهٔ شک مينگرند که عواقب ناگوار آن بر دوش کسانی خواهد بود که خواستها و آرزوهای ملت را ناديده مينگرند و پابند خواستهای نامشروع و غير قانونی خود اند.))

(ص، ۲)

په ننګرهار ولايت کې د ډله ايز بريد په پايله کې دولسو تنو ته مرګ ژوبله واوښته

په دې پېښه کې د عدليې رياست درې مامورين، دوه پوليس، يو ماشوم، يو د رياست مراجعه کوونکی او درې بريدګر وژل شوي دي

ننګرهار، رسنۍ:
د ننګرهار ولايت په مرکز جلال آباد ښار کې د خلورمې ناحيې اړوند د عدليې په رياست د دوشنبې په سهار پيل شوې ډله ييز بريد کې اووه تنه وژل شوي او نږدې ۱۴ نور ټپيان شويدي.
د ننګرهار امنيه قوماندان وايي دغه بريد سهار د ۹ بجو په شاوخوا کې پيل او تر يوې نيمې بجې يې دوام وکړ.
هاغو د امنيه قوماندانۍ جنايي مدير سمونوال عبدالرووف وايي، چې په دې پېښه کې د عدليې رياست درې مامورين، دوه پوليس، يو ماشوم، يو د رياست مراجعه کوونکی او درې بريدګر وژل شوي دي.
د ننګرهار د ملکي روغتون مسئولين وايي، روغتون د ښوونځي د زده کوونکو په ۱۴ ټپيان وروړل شوي چې لس ته يې تر لمړنۍ درملنې وروسته رخصت ګړيدي.
بلخوا ددې ولايت اوسيدونکي په امنيتي ادارو نيوکه کوي چې ...

(۴ مخ)

الکو:

د ولسي جرګې رييس او ځينو وکيلانو له ښاروالې ځمکې غوښتي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان لوی څارنوال وايي چې؛ د کابل پر ښاروال د اکثرو وکيلانو ادعاوې د شخصي امتيازاتو پر اساس دي او د ولسي جرګې د رييس په ګډون يو شمېر وکيلانو...

(۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ولس د خپلو رايو خونديتوب غواړي

وايي: که کوټه وسوځېده؛ نو ديوالونه يې پاخه شول. که پر افغانستان د کمونيزم سره سيلۍ ولګيده، که په ميليونونو مسلمانان په خپلو وينو کې ولمبول شول او يا په ډله ييزه توګه په بلدوزرو تر خاورو لاندې شول، او يا هم په ميليونونو له هېواده هجرت ته اړ شول، که لوږې، تندې او بې کورۍ يې وليدې؛ خو يوه ګټه يې وکړه او هغه دا چې سياسي شعور زموږ په ملت کې عام شو او د پخلي مرحلې ته ورسېد. ډېر ځله سړی له يوه نالوستي سړي يا ښځې نه داسې خبرې واوري چې حيران شي دی د دنيا له کوم پوهنتونه يې د فراغت سند اخستی دی.

دا اوس چې زموږ په هېواد کې څه کېږي، څوک يې کوي او د کوم هدف له پاره يې کوي دا ټول د درک وړ دي، نور ددې ضرورت نشته چې يو څوک که د غلا په نيت روان و؛ نو ددې لپاره ټوغ ټوغ شي چې څوک يې ونه ګوري، اوس د افغانستان ولس داسې ذره بيني عينکې په سترګو کړي چې هر څه ويني او ښايي د حضرت علامه اقبال د ادعا ددې ملت په حق کې قبوله شوي وي چې:

يارب درون سينه دل با خبر بده
در باده نشه را نگرم آن نظر بده
اين بنده را که با نظر ديګران نزيست
يک آه خانه زاد مثال سحر بده

د ولسمشرۍ انتخابات وشول، خلکو په کې په پوره شور و شوق برخه واخسته په انتخاباتو کې د خلکو پراخ ګډون ددې ملت د سياسي شعور د لا وېښتيابه ښکاره ثبوت و او ددې ترڅنګ يې دا پيغام هم درلود چې نور له دې حالته ستړی شوی دی او يو مثبت بدلون غواړي.

له انتخاباتي نتايجو سره چې کوم څه وشول دا خلکو ته خواشينوونکي وو. البته هيڅوک هم نه غواړي چې يو څوک دې د تقلبي رايو له لارې د ولسمشرۍ مقام ته ورسېږي؛ بلکې بايد د شفافو او پاکو رايو له لارې دی مقام ته ورسېږي چې مشروعيت يې له شک او ترديد سره مخ نه شي.

د انتخاباتي رايو د شميرنو او بيا د شکاياتو د څېړلو بهير چې څومره اوږد کړای شو، موږ يې په عملي ژوندانه کې منفي اغيزې ګورو:

• خلک په عمومي توګه نهيلي شول چې له رايو سره يې توکې کېږي.
• د مغزونو فرار سرعت وموند.
• د پانګو فرار لاپسې ګړندی کړ شو.
• خلک د راتلونکي په اړه يو ډېر مبهم تصوير په مخ کې ويني.
• په بازارونو کې بيې په سرسام آوره توګه لوړې شوې.
• د افغانۍ ارزښت مخ په ځوړ روان دی.
• امنيتي وضع په چټکتيا سره مخ پ خرابيدو درومي.

دا او دی ته ورته نورې ډېرې د انديښنې وړ خبرې.

اوس خلک د انتخاباتو او شکاياتو له کميسيونونو نه نور څه نه غواړي؛ فقط همدومره چې د خلکو د رايو درناوی دې وکړي، شفافيت دې په پام کې ونيسي، خپله بې طرفي دې وساتي، د يوه کانديد په ګټه او د بل په زيان دې کوم اقدام نه کوي، انتخاباتي بهير دې بې دليله نه ځنډوي.

که چېرې د نوماندانو په اړه نيوکې کېږي؛ نو دا نيوکې د انتخاباتو او شکاياتو د کميسيون په اړه هم کيدای شي، ايا د نوماندانو له ټيمونو ور اخوا همدا اوس پخپله د انتخاباتو د کميسيون د محلي کارمندانو په اړه شکايتونه ونه شول؟ دا شکايتونه د مرکز په کچه هم کيدای شي او بلکې شوي دي.

فدا محمد فایض

امیدها را بنومیدیها میکشانند

جریان سیاسی بن واقعاً نواقص خود را داشت. یکی از نقیصه ها این بود که برخی از احزاب را ازین جریان سیاسی بدور نگهداشتند تا زمینه برای مخالفتهای مسلحانه در افغانستان مهیا باشد و صلح و ثبات به افغانستان بر نگردد. قوتهایی که چنین برنامه را مهندسی کرده بودند در عقب آن اهداف خاص خود را داشتند که امروز این اهداف از نظر ملت مسلمان افغان پوشیده نمانده است. در پلهوی آن که زمینهٔ وجود مخالفتهای مسلحانه را مهیا کردند یک اردوی هفتاد هزار نفری دارای سلاح فقط خفیفه بدون داشتن سلاح ثقیلهٔ زمینی و داشتن قوای هوایی را برای افغانستان درنظر گرفتند تا از یکسو زمینهٔ اشتعال جنگ مسلحانه را مهیا کنند و از سوی دیگر دولت هم دارای یک اردوی ضعیف غیر تربیت شده و غیر مسلح باشد تا هیچ جناح نتواند بر جناح دیگر غالب آید و بدینگونه جنگ ادامه یابد تا مبتکرین کنفرانس بن در آب گل آلود ماهی بگیرند. می بینیم که جنگ از سال ۲۰۰۳ دوباره مشتعل شد آنانی را که از جنگ دست کشیده بودند از طریق اذیت و آزار دوباره عقده‌مند ساختند تا بار دیگر به جبهات جنگ و مخالفت مسلحانه پناه ببرند.

یگانه نفعی را که کنفرانس بن داشت این بود که کم از کم اساس یک دولت در آن نهاده شد: قوای ثلاثه تشکیل گردید، قانون اساسی تسوید، تدقیق و توشیح شد و طریق انتخاب زعامت تسجیل گردید. ما در شرایط کنونی بدون رفتن به پای صندوقهای رأی راه دیگری برای انتخاب زعامت کشور نداریم. تا جایی که مربوط به حزب اسلامی افغانستان می شود، حزب اسلامی از قبل به انتخابات باور داشت و زعامت تنظیمی و شورای مرکزی خود را از طریق انتخابات بر می گزینند. فلهذا حزب در امر پذیرفتن اصل انتخابات مشکلی ندارد و این حزب یگانه حزب در بین احزاب حتی جهادی بود که به انتخابات هم باور داشت و هم آنرا عملی کرده است.

البته می پذیریم که افغانستان جنگ زده مشکلات فراوانی فراراه داشت و هنوز هم دارد؛ ولی با آن هم ادارهٔ موقت، انتقالی و دو دورهٔ انتخابی بر مشکلات موجود فایق نیامد، و بیشتر دست بدامن مصلحتها زد. از همین جهت فساد اداری روز تا روز دیگر قوت یافت و کشور به نحوی دستخوش انارشیزم گردید. ما در طول همین مدت شاهد نبودیم که کم از کم به یک دوسیهٔ بزرگ فساد رسیدگی شده باشد. به همین ترتیب ده ها و صدها کاستی دیگر، بناءً ملت دیگر از وضع موجود به ستوه آمد و چشم براه انتخابات بود تا زمینهٔ یک تحول و یک تفییر مثبت فراهم گردد.

طبق حکم قانون اساسی فرصت انتخابات ریاست جمهوری فراهم گردید.

روز شانزدهم حمل (۱۳۹۳) یعنی روز انتخابات ریاست جمهوری فرارسید، مردم برخلاف پیشبینی هم قوتهای داخلی و هم جهانیان با اکثریت بیشتر در انتخابات سهم گرفتند و بجا بود که افغانها این روز را جشن ملی نام کردند؛ ولی دستهای مرئی و نامرئی غرض نگذاشتند این جشن افغانها ثمر منتظره را در پی داشته باشد؛ متأسفانه کوله بار تقلب و تخلف را در پشت انتخابات بستند و احساس پاک و شعور سیاسی ملت را زیر پرسش بردند. میگویند شخصی «مربا» نیاز داشت، نزد دکاندار رفت و پرسید: کاکا «مربع» داری؟ دکاندار خندید و گفت: دارم؛ اما آنقدر تیره نه که تو میخواهی. در افغانستان انتخابات این بار سوم است که مشق و تمرین میشود من رد نمیکنم که طرفدار کدام کاندیدی دست به این خوش کرده باشد که در زمینه خوشخدمتی کرده باشد؛ ولی نه به این پیمانه که اکنون به بهانه تقلب، از سوی حلقات خاص، تقلبات بزرگ مهندسی شده صورت میگیرد؛ زمستان خواهد گذشت و رو سیاهی بزغال باز خواهد ماند. البته اهدافی که در عقب این مهندسی وجود دارد، چنین هم نیست که قابل درک نباشد. ما میدانیم که در عقب این مهندسی ها اهداف بسیار خطرناک نهفته است؛ ولی آنانی که دل به آن بسته باشند، تا ازین طریق خود را به اهداف غیرقانونی و ناپذیرفتنی خود برسانند فکر می کنم اشتباه می کنند؛ زیرا چنین خیال پختنها بجز آنکه کشور را بسوی یک بحران وسیعتر از امروز ببرد دیگر هیچ پیامدی نخواهد داشت.

حقیقت آن است، آنقدر که ملت برای انتخابات امیدوار بود و برای فرا رسیدن روز انتخابات دقیقه شماری میکرد، چنانچه آنرا در عمل هم ثابت کرد؛ ولی امروز به همان پیمانه مردم ما نسبت به آینده ناامید میشوند و اجراآت در پیوند با پروسهٔ انتخابات را بدیدهٔ شک مینگرند که عواقب ناگوار آن بر دوش کسانی خواهد بود که خواستها و آرزوهای ملت را نادیده مینگرند و پابند خواستهای نامشروع و غیر قانونی خود اند.

افغانستان امروز در یک حالت اسفبار قرار دارد و مردم با مشکلات عدیده یی مواجه هستند. اگر این کشتی طوفانزده هر چه زودتر بسر منزل مقصود رسانیده نشود این مشکلات افزوده خواهد شد و ابعاد گستردهٔ دیگری پیدا خواهد کرد.

اگر پروسهٔ انتخابات به بهانه های مختلف به درازا کشانیده میشود، مردم خوشبینی خود نسبت به این پروسه را از دست میدهند. همین اکنون که دور اول انتخابات در مرحلهٔ پایانی خود قرار دارد مردم خیلی مأیوس شده اند و به این فکر هستند که این تیر امید شان هم بهدف نخورد و خدا میداند که دیگر چه روزهایی را خواهند دید. بناءً هر قدر سفر طولانی پروسهٔ انتخابات کوتاهتر شود مردم از حالت یأس بیرون خواهند برآمد. متأسفانه در سیزده سال گذشته همه چیز ما به بدنامی کشید و اعتبار خود را از دست داد اگر ما انتخابات را هم که یک پروسهٔ ملی است بدسته بی اعتبار میسازیم، پس دیگر چه راهی باقی مانده که ما قیادت کشور را از آن طریق انتخاب کنیم. متأسفانه لویه جرگه ها هم بصورت غیر قانونی تدویر یافت و فیصله های بیرون از حیطهٔ صلاحیت خود کردند و به اصطلاح به لویه جرگه هم عمداً کدام اعتباری باقی نماندند. اگر انتخابات هم بهمان سرنوشت مواجه شود پس «چیست یاران طریقت بعد ازین تدبیر ما؟»

عبیدالله صافي

اصلاح پخپله راځي که راوستل کيږي؟

لوی الله انسان په دومره لوړ کيفيت او اوچت معيار سره خلق کړی دی چې دهغه په ذهن کې يې ښه او بد دواړه الهام کړي دي او دا ځواک يې ورکړی دی چې د دواړو ترمنځ فرق وکړي او ويې پيژني، البته هر انسان يې آزاد او خپلواک پرېښې دی چې له دواړو نه پر کوم يو عمل کوي پر نيکه او حقه لاره روانېږي او که پر بده لاره، پر نيکه لاره د تللو په نتيجه کې الله تعالی د کاميابی زيرې ورکړي او د بدی لارې پخپلولو کې د ناکامی او تباهی. مطلب دا چې انسان د خپل حال او مستقبل په جوړولو کې خپلواک او مختار دی. کومو وګړو چې د نيکی کارونه پرمخ يوړل او د ژوند په ټولو چارو کې نيکي ته لومړيتوب ورکړ له څه شک پرته هغوی د ژوند په ټولو ډګرونو کې له ستونزو څخه خلاصېږي او د هوسا ژوند خاوندان کېږي، هغوی ته نه په حکومت کې ستونزه پيدا کېږي او نه هم په عدالت کې، نه يې سر او مال په خطر کې لوېږي او نه يې هم عزت او آبرو، نه مظلوم واقع کېږي او نه هم ظالم. نه پر هغه بې ځای تهمتونه لګېږي او نه هم هغه پر بل چا تورونه او تهمتونه لګولی شي؛ بلکې هر څه به د امن او ورورۍ په فضاً کې پرمخ ځي او بس، دا چې موږ د ژوند په ټولو ساحو کې له ډول ډول ستونزو، غمونو، پريشانيو، اوښکو، سلګيو، ګيلو او فريادونو سره لاس او ګريوان يو ددې يواځنۍ وجه زموږ خپلې ناوړې کړنې او له حق نه سرغړونه ده نه بل څه.

ډيری خلک ددې ټولو ستونزو لامل بې سوادي او غربت په ګوته کوي او استدلال کوي چې تر کومه پر دغو دواړو کابو ونه مونډل شي ستونزی به همداسې پخپل اصل شکل کې پاتې وي؛ خو پوښتنه داده چې د بې سوادی او غربت دا ستونزی پخپله حل کېږي او که ددې له منځه وړلو لپاره زموږ مخلصانه هلو ځلو ته اړتيا ده؟ څرګنده خبره ده چې هيڅ يوه ستونزه پخپله نه حل کېږي؛ بلکې له هغې نه د خلاصون د ترلاسه کولو لپاره انساني هلو ځلو ته اړتيا ده، بې سوادي هله له منځه تللی شي چې د علم او عرفان د ترلاسه کولو لپاره لازم وسايل او اسانتياوې په کار واچول شي، د پوهنې وزارت او حکومت صادقانه ګامونه پورته کړي، ښوونکي له زړه کوونکو سره د نورې نړۍ د استاذانو په څېر خواري وکړي، خپل دروند مسؤوليت ادا کړي؛ نه دا چې صرف خپله حاضري امضا کړي او د شاګردانو تعليم او تربيې ته لازمه پاملرنه ونکړي، همداراز غربت او فقر هم هله له منځه تللی شي چې د استيصال لپاره يې له اخلاص او صداقت نه ډک ګامونه اوچت کړی شي، هغه لارې چارې په کار واچول شي چې د غربت د ختمولو لپاره مرستندويه واقع کېږي؛ خو ډېر افسوس چې موږ دا هر څه په مفتو کې غواړو چې په هيڅ حالت کې امکان نه لري، بل دا چې علم او پوهه هم تر هغه مثبته نتيجه نه ورکوي چې د مثبتو کارونو لپاره په کار وانچول شي، علم داسې يوه آله ده چې د خير او شر دواړه کارونه ورباندې کيدلې شي، که په عدالت کې ناست قاضي صيب له خپل علم نه مثبته ګټه واخلي؛ نو عدالت مخې ته راځي او که منفي ګټه ترې پورته کړي؛ نو ظلم او بې عدالتي رامنځته کېږي، همداسې ټول هغه وزارتونه، رياستونه، ولايتونه او نورې لوړې اداري درواخله چې د هېواد پر لوړو ځوکيو کار کوي، دوی ټول د علم او عرفان له رڼا نه مستفيد دي، د حرام او ظلم لاره هم پيژني او د حلال او انصاف لاره هم؛ خو چې له علم نه ناوړه ګټه پورته کوي او د پوهې باوجود د خپلو نفساني غوښتنو په لومو کې راګېرېږي، نتيجه يې زموږ د ټولو په وړاندې ده چې تراوسه له ستونزو پرته بل څه يې نه دي راکړي، کله چې د باسواده قشر دا حالت وي چې په هر څه د پوهېدو باوجود عارفانه تجاهل کوي، سياست پوهان پخپلو کې د ماشومانو په څېر يو بل ته د ملامتی ګوته نيسي، د خپلو ګناهونو او نواقصو د پټولو لپاره خندونکی دلايل وايي چې ماشوم هم ورباندې پوهېږي او ډيرې رسنی هم د څو روپو امتيازاتو په خاطر دهغوی په ملاتړ ليکنې او تبصرې کوي؛ نو په هېواد کې به مثبت بدلون او مثبت فکر څنګه وده مومي؟!

راځئ د ۱۳۹۳ کال د ورې شپاړسمې ټاکنې وڅيړو، دا ټاکنې په دې موخه ترسره شوې وې چې اولس د خپلو رايو په کارولو سره خپل راتلونکی ولسمشر وټاکي، هغوی خپل مسؤوليت ادا کړ، په سختو شرايطو کې د ګڼو ستونزو باوجود د رايو صندوقونو ته ورغلل، مګر همدغو باسوادو د اولس له رايو سره څومره جفا وکړه، جعلي کارتونه ورته چا جوړ کړل او د جعلي رايو د کارولو زمينه ورته چا مساعده کړه، يو کس ته څو څو واره د رايو اچولو اجازه چا ورکړه؟ ډبنتو او کندوالو ته د صندوقونو او د رای پاڼو د انتقال جواز چا ورکړ؟ دهقان، ګلکار، آهنګر، موچي، دکاندار، ډريور، ژرنده ګري، نجار او که د لوړو زده کړو لرونکو کارمندانو او مامورينو؟

څرګنده خبره ده چې دا ټول حالات هغو باسوادو مساعد کړل چې د حکومت پر څوکی ناست وو، غربت هم همدغو پر غټو څوکيو ناستو صاحبانو ايجاد کړی، پر بيت المال يې ګيډه اچولې، اسراف او بذر تر آخری کچې رسيدلی، غبن، رشوت، درغلي او فساد بالکل عام دی، په سلو کې پنځه روپی هم د غربت د خاتمې لپاره نه استعمالېږي؛ بلکې هر څه د اقتدار خاوندان پخپلو ځوليو کې اچوي، ددوی ژوند ورځ تر بلې ښه کېږي، بلند منزلونه او تجارت يې زياتېږي، لګيا دي په دوبی، ترکيه، اروپا او نورو هېوادونو کې کورونه او هوټلونه جوړوي، مګر غريب نور هم غريب کېږي، د خوراک لپاره يوه مړی ډوډی او د اوسېدو لپاره يوه ښسوه کور نشي پيدا کولې، واليان، ښاروالان لګيا دي زمکې د اقتدار پر خاوندانو او پيسه دارو خلکو پلوري، بيچاره غريب ته چې صرف د خپل سر پټولو لپاره د جونګړې د جوړولو ځای غواړي د يوې کوټی ځای هم ورته څوک نه ورکوي، داسې يو غريب به خپل زوی څنګه ښوونځي ته ولېږي او څنګه به ورباندې سبق ووايي؟ د سبق ويلو لپاره د کورسونو د تعقيبولو اړتيا پيدا کېږي چې خپل تعليمي سويه اوچته کړي؛ مګر غريب سړی نشي کولای چې د کورسونو فيسونه ورکړي؛ نو ځکه دهغوی اولادونه هم بې سواده پاتې کېږي او که ډېره توره هم وکړي؛ نو تر دولسم پورې به ووايي؛ مګر هغه بيچاره بيا په کانکور کې پاتې کېږي او د لوړو زده کړو له نعمته محرومېږي.

په افغانستان کې له ولسمشره نيولې تر وزير، والي، ولسوال او رئيس پورې د هېواد د پرمختګ او د ولس د ژوند د ښه کولو لپاره ډير په زړه پورې او جذابې خبرې خو کوي؛ ولې حقيقت ددې برعکس دی، يوازې په تشو خبرو يو کار هم نه ترسره کېږي؛ بلکې ددې لپاره عملي اقدام ته اړتيا ده؛ مګر له بده مرغه دلته خبرې ډيرې دي او عمل په دوربين کې هم نه ليدل کېږي په داسې حال کې چې د ټولنې د پرمختګ او د اولس د ژوند د ښه کېدو لپاره عمل ته ضرورت دی؛ ځکه خو د کائناتو خالق او مالک ذات پخپل سپيځلی کتاب قرآن کريم کې دا تشې خبرې غندلې او خبرداری ورته ورکړيدی چې د الله په نزد هغه خبرې ډيره لويه ګناه لري چې عمل ورباندې نه کېږي.

د دومره اوږدې مقدمې د ليکلو هدف مې دا و چې تر څو پورې خپل نفسونه اصلاح نه کړو او د بدی پر ځای نيکی ته لومړيتوب ورنکړو په هېڅصورت د ښې ورځې مخ نشو ليدلای، الله تعالی تر هغې زموږ حالت نه بدلوي تر څو چې د خپل حالت د بدلولو کوښښ پخپله ونکړو، موږ د هر څه د مخه د يو مسلمان او بيا د اشرف المخلوقات په توګه ستر مسؤوليت لرو چې خپلې ټولې کړنې د اسلام د سپيڅلی قانون تابع وګرځوو، د خپلو نفساني غوښتنو د بنده ګی پرځای د لوی الله بنده ګي وکړو په هغه نيغه لاره روان شو چې د لمونځ په هر رکعت کې پر نيغې لارې د تللو دعا کوو، تر څو پورې چې د خپل ايمان او اسلاميت غوښتنې پوره نکړو او د الله جل جلاله پر آيت: «اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ» د زړه له تل نه عمل ونکړو، د خپل د زړه هغه توکړه اصلاح نه کړو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دهغې په اړه فرمايلي دي: ستاسې په بدن کې يوه ټوټه غوښه ده که هغه اصلاح شي؛ نو ستاسې ټول بدن ورسره اصلاح کېږي او که هغه فاسده شي؛ نو ستاسې ټول بدن ورسره فاسدېږي، خبردار! چې هغه ستاسې زړه دی، خو له بده مرغه زموږ د ژوند په ټولو ډګرونو کې نه صحيح ايمان ليدل کېږي او نه هم اسلام؛ بلکې په هر څه کې له قانونه سرغړونه تر سترګو کېږي، تقوی هم سرخوړلې او د قانون احترام هم، مګر ددې ټولو باوجود بيا هم خپلو ګناهونو ته ګناه نه وايو او د هرې ګناه د پټولو لپاره احمقانه او ګمراه کوونکی دلايل وايو چې دا کار يوازې او يوازې د الله قهر او زموږ له هلاکت پرته بل هيڅ ګټه نلري، که ځانونه اصلاح نه کړو او خپلو غلطيو ته د پای ټکی کښېنږدو؛ نو ډېر ژر به خپل منطقي انجام ته ورسېږو چې له پښيمانی پرته به بل هيڅ نشو کولای.

ما به هیچکس دیگری اجازه نمیدهیم ...

(ادامه از صفحه اول)

... حزب اسلامی افغانستان وجود خارجی نداشته و به هیچ صورت شامل تشکیلات حزب اسلامی افغانستان نمی باشند. عنوان کنندگان این شوراها افراد و اشخاصی اند که بعضی شان در محیط هجرت منسوب به حزب اسلامی افغانستان بودند و بعدها با حزب اسلامی افغانستان بریده اند. درمیان آنها کسانی هم به نظر می رسید که بیش از (۳۰) سال رابطهٔ شان با این حزب قطع گردیده است و اکنون فقط از شخص خود نماینده گی کرده می توانند که حمایت و طرفداری آنها از کدام کاندید حق مسلم شان بوده؛ ولی بهیچوجه نماینده گی مستقیم و یا غیر مستقیم از حزب اسلامی افغانستان که در وزارت عدلیه ثبت میباشد، کرده نمیتواند.

۲- حزب اسلامی افغانستان همانطوریکه همه میدانید یک حزب عقیدتی سیاسی است که در قضایای ملی و بین المللی دارای موقف ثابت بوده که ناشی از عقیده و فکر اسلامی شان میشود و در طول زمان در سه دور انتخابات با درنظر داشت معیارهای اسلامی تصامیم خود را اتخاذ کرده و در دو دور قبل انتخابات ریاست جمهوری از کاندیداتوری جلالتماب رئیس جمهور افغانستان جناب حامد کرزی حمایت کرده و در این دور با موقف واضح و مشخصیکه انجنیرصاحب محمدخان به حیث معاون اول داکترصاحب عبدالله عبدالله از تیم اصلاحات و همگرایی قبلاً پشتیبانی خود را اعلان نموده که ان شاء الله تا آخر خط در این مسیر روان خواهد بود، و هیچگونه تغییر در این موقف حزب اسلامی نخواهد آمد، مگر بر مبنای عقیدهٔ ما.

۳- حزب اسلامی افغانستان پیوستن گروه ها و افراد با تیم های کاندیداتوری را که در افغانستان فعلاً بریاست جمهوری وجود دارند حق مسلم هر افغان میدانند و در این رابطه هیچ نوع ملاحظه ندارد، اما به اسم و نام خود باید این اعلان را بکنند. نه به نام یک گروه از تنظیمیکه او دارای موقف بوده و در انتخابات های سه دور گذشته هم اشتراک کرده است. از آدرس و نام اینها به هیچ وجه ما به کسی اجازه نمی دهیم که نام حزب اسلامی افغانستان را بخاطر منافع شخصی و یا گروهی خود استفاده کنند. به این ترتیب ما از وزارت عدلیه افغانستان هم تقاضا میکنیم که چون احزاب سیاسی افغانستان در وزارت عدلیه ثبت و راجستر است و حزب اسلامی افغانستان یکی از احزابی است که در وزارت عدلیه افغانستان ثبت و راجستر شده گی است. بناً هر تخطی که در این رابطه از طرف کسانیکه حق و صلاحیت استفاده کنند قانون بر آنها این حق را نمیدهد، در این رابطه اقدام کنند و جلو کسانیکه نام حزب، آرم حزب و بیرق حزب را بصورت غیر قانونی در مجالس خود استفاده می کنند، جلوگیری نموده و به این ترتیب از نیروهای امنیتی هم ما این تقاضا را داریم که جلو تخطی های واضح و غلط را که یکعده افراد انجام میدهند بگیرند و همچنان از کمیسیون شکایات این تقاضا را داریم که برای تمام کاندیدان تفهیم کنند که اگر کسانی با اینها میپیوندند به اسم و نام خود بپیوندند، با اینها از نام دیگرها منحیث یک تنظیم سیاسی نباید سؤ استفاده بکنند. به این خاطر ما به کمیسیون سمع شکایات هم اینرا پیشنهاد میکنیم که جلو این نوع فعالیت ها را بگیرد.

موضع حزب اسلامی افغانستان مشخص است، کسانیکه در دور اول انتخابات هم در حزب اسلامی بودند، همه میدانند که موضع مشخص داشتند، در همهٔ افغانستان و در همه نقاط افغانستان حضور گستردهٔ در این انتخابات داشتند و الحمدلله که نتایج شان برای همه واضح و آشکار است. ما به هیچ صورت در هر دور انتخابات به کسانی نو و جدید بدون برنامه و هدف روان نخواهد شدیم.

شهادت اونیزه

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه سترديږي - بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

واشنګټن پوسټ: افغان اردو د طالبانو د پسرلنیو حملو د ناکامولو وس لري

کابل، رسنۍ؛
ځینو لویدیځو ورځپاڼو د طالبانو د پسرلنیو عملیاتو پر اعلان او د افغان امنیتي ځواکونو پر وړتیاوو لیکنې چاپ کړي دي.
واشنګټن پوسټ ورځپاڼې لیکلي، د سیاسي چارو ماهران په دې باور دي چې وسله والو طالبانو بریدونو کې ملکیانو ته د زیاتو مرګ ژوبلو له اړولو وروسته خپل عملیات محدود کړي دي. د دې ورځپاڼې په باور د طالبانو په حملو کې د ملکیانو مرګ ژوبلو د دې ډلې په وړاندې د افغانانو بدبینۍ زیاته کړې، په تیره بیا وروسته له دې چې طالبانو د کابل په سرینا هوټل کې افغان خبریال سردار احمد له خپلې میرمن او دوو ماشومانو سره وواژه.
واشنګټن پوسټ زیاتوي، افغان او امریکایي قومندانان خوشبینه دي چې افغان ملي اردو او ملي پولیس د طالبانو د پسرلنیو حملو د ناکامولو وس لري. ورځپاڼې د پوځي چارو د یوه افغان ماهر عتیق الله امرخیل نظر رااخیستي چې وايي، د طالبانو پټکې په حقیقت کې یو روحي او نفسیاتي جنګ دي چې نتیجه نه شي لرلی.
په کاناډا کې خپرېدونکې هفینګټن پوسټ ورځپاڼې بیا د افغانستان په ماموریت کې برخوالو کاناډایي پوځیانو ته د درناوي په اړه یوه لیکنه چاپ کړې ده. د ورځپاڼې له مخې د افغانستان د کړکیچ په ۱۲ کلونو کې شاوخوا ۴۰ زره کاناډایي پوځیانو برخه واخیسته او ټول ښېرته خپل هیواد ته ستانه شول.
هفینګټن پوسټ ورځپاڼې ورځپاڼې په دوام کې لیکلي، کاناډایي پوځیانو ته د درناوي په ملي ورځ د دغه هیواد زرګونو اتباعو برخه لرلـه او د دغو پوځیانو هلې ځلې او د کاناډا لګښتونه یې وستایل.
له ۲۰۰۲ څخه په افغانستان کې د کاناډا ۱۵۷ کاناډایي پوځیان وژل شوي دي چې په یوه بهرنۍ جګړه کې د کاناډایي پوځیانو لپاره تر ټولو زیات تلفات دي.
د بریتانیا اندیپنډنټ ورځپاڼې د یوه طالب ترځنګ د یوه بریتانیایي پوځي د خوشاله عکس په اړه د تحقیقاتو په باب لیکنه خپره کړې ده. ورځپاڼې د دغه بریتانیایي پوځي عکس چاپ کړي چې سګرېټ یې په شونډو کې نیولي او لاسونه یې د بري په نښه پورته کړي دي.
د ده ترځنګ د یوه طالب مړي لیدل کېږي. د ورځپاڼې له لیکنې سره سم دا عکس په ۲۰۱۲ کال په هلمند ولایت کې هغه مهال اخیستل شوي چې وسله والو طالبانو غوښتل پر باستین کمپ برید وکړي.
د بریتانیا دفاع وزارت اوس ویلي چې د دې عکس په اړه تحقیقات کوي. ورځپاڼې کښلي چې دا پېښه د هغو حساسو مسلو وروستی یوه ده چې په هغې کې د طالبانو مړو ته سپکاوي شوي دي. ځینو لویدیځو پوځیانو ویلي چې باید په دا ډول پېښو کې له زیات زغمه کار واخیستل شي.

درخواستي کړې ده؛ چې هغه د ښاروال له وسه نه وه پوره او هغه خپله د اداره امور له خوا څخه د قانون په چوکاټ کې هدایت ورکول شوی دی."
وروسته له هغې چې د ولسي جرګې یو شمیر غړو د کابل په ښاروال محمد یونس نو اندیش د اداري فساد تورونه ولګول او د هغه د ګوښه کیدو غوښتنه یې وکړه؛ ولسمشر کرزي د دې لانجې په اړه د تحقیقاتو امر وکړ.
د ښاغلي الکو په وینا، ښاروال څارنوالی ته ویلي چې، د ولسي جرګې د مواصلاتو او مخابراتو د کمیسیون رییس قیس حسن هم تري غوښتي چې؛ د یوه شخصي ښارګوټي لپاره غصب شوي دولتي ځمکه دې قانوني کړي.
هغه ویلي چې، د قیس حسن ورور د میرویس په نوم یو ښارګوټی لري چې؛ دري سوو دیرش جریبه قانوني ځمکه لري؛ خو تر اوو سوو جریبو ځمکه یې نیولې ده.
ښاغلي الکو ویل، قیس حسن له مخکې له لویې څارنوالی سره یوه بله دوسیه هم لري؛ چې له امله یې نوموړی د تیر یوه نیم کال راهیسې ممنوع الخروج اعلان شوی دی.
بلخوا د ولسي جرګې رییس او یو شمیر غړي یې د ښاروال تورونه په ردوي.
د دې جرګې رییس عبدالرووف ابراهیمي د شنبې د ورځې په عمومي غونډه کې وویل:
"موږ هیڅ ډول اختلاس نه دی کړی او نه یې اراده لرم."
ما له ښاروال څخه کورنه دی غوښتی؛ بلکې جمهوررییس ته مې ویلي وو. هغه راته وویل، اوونی وروسته راشه.

جمهوررییس ښاروال ورغوښتی و او ورته یې ویلي وو؛ چې د ولسي جرګې رییس ته دې تراوسه یوه نمره ځمکه نه ده ورکړې؛ ده وویل، په پډوله کې مې ځمکه ورکړې بایې ورکوم. د پډولې ځمکه جنجالي ده، ده هم تایید کړه.
دا هماغه ځمکه ده چې جمهور رییس ورته ویلي؛ استاد یې پراته دي خو ښاروال تراوسه یوه لوټه هم نه ده راکړې."
د ولسي جرګې د مواصلاتو او مخابراتو د کمیسیون رییس قیس حسن هم پر ده د ښاروال له خوا لګیدلي تورونه رد کړل.
ښاغلي حسن ازادي راډیو ته وویل چې، د میرویس ښارګوټي د ولسمشرۍ په منظورۍ جوړ شوی دی او که ده له ښاروالۍ اضافي ځمکه غوښتې وي؛ نو اسناد دې وړاندې کړي.
د افغانستان لویې څارنوالی وایي چې؛ د ولسي جرګې له غړو هم غواړي چې پر ښاروال د ادعاوو په اړه خپل اسناد او شواهد وړاندې کړي؛ تر څو د دواړو خواوو نه له څېړنو وروسته خپله پریکړه اعلان کړي.

په ننګرهار ولایت کې د ...

ولې ترې د ښار زره ته برید کړ داخلیږي.
وسله والو طالبانو د دغه برید مسوولیت پر غاړه اخیستی دی.
بل خوا د ننګرهار امنیه قوماندان وایي چې ددې ولایت په ټولو ولسوالیو کې یې د دوهم پړاو تاکتو لپاره چټیز عملیات پیل کړیدي.
د نوموړي په وینا ددې عملیاتو په ترڅ کې یې یو شمیر جنګیالي نیولي او دارنګه یې له هغوي څخه یوه زیاته اندازه وسلې او چاودیدونکي توکي تر لاسه کړیدي.

اعلام حمایت داکتر زلمی ...

تیم اعتدال، برابری و سازندگی استقال می کند و می گوید که برای تشکیل یک حکومت فراگیرملی تلاش خواهد کرد.
داکتر عبدالله عبدالله تاکید می کنند که از آرای پاک مردم افغانستان دفاع خواهد کرد. این در حالیست که چندی پیش تیم صلح و بازسازی به رهبری محمد شفیق گل آغاشیرزی از تیم اصلاحات و همگرایی به رهبری داکتر عبدالله عبدالله حمایت کرده است.
انتظار می رود تا روز های آینده شمار از تیم های دیگر انتخاباتی نیز با تیم انتخاباتی اصلاحات و همگرایی یکجا شوند.

له ۹۰۰ زره د ډېرو رایو ...

شمیرل هغه نیو کې دي، چې د دغه ټیم له لوري وړاندې شوې.
کابل کې د رایې ټولونې مرکز له لوري د تښه شویو فورمو له شمیرو سره په ولایتونو کې د اصلاحاتو او همپالنې ټیم څارونکو ته د ورکړل شویو پاڼلو د فورمو د شمیرو تر منځ توپیر هم هغه استادونه دي، چې د اصلاحاتو او همپالنې ټیم له لوري، د ټاکنو کمیسیون له مرکزونو څخه تر لاسه شوي دي.
د څار په برخه کې د اصلاحاتو او همپالنې ټاکنیز ټیم مرستیال عبدالستار مراد په تنګې خبري ناسته کې وویل، چې د ټاکنو په کمیسیون کې له ۹۰۰ زره څخه ډېرې مشکوکې رایې شته دي، چې باید لاسرسی ورته وشي.
هغه زیاته کړه، چې د دغو رایو له ډلې یې ۵۰۰ زره رایې د اشرف غني په ګټه کارول شوي او له ۴۰۰ زرو څخه زیاتې نورې یې ورکې دي او د ټاکنو کمیسیون د رایې راټولونې مرکز په سیستم کې شتون نه لري.
د دغه ټیم مرستیال، د ټاکنو خپلواک او ټاکنیزو شکایتونو له کمیسیونونو وغوښتل، چې د خلکو امانت او رایو ته درناوی وکړي او خپل مسوولیت په ښه او روڼ ډول ترسره کړي.

نور: د انتخاباتو وروستی ...

د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون ویلي، چې په نن او سبا کې به د خپلو څېړنو نتایج د انتخاباتو خپلواک کمیسیون ته وسپاري.
ایا دا ځنډ به د دې سبب نه شي چې د جمهوري ریاست د انتخاباتو د وروستیو نتایجو اعلان هم وځنډیږي؟!
دا پوښتنه مو د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون له ویاند نور محمد نور سره شریکه کړه، هغه وویل دا په دې پورې اړه لري چې د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون څه پریکړې کړې دي.
خو هغه وویل، تر اوسه د نتایجو د اعلان د ځنډیدو خبره مطرح نه ده او کمیسیون ژمن دی چې د ثور په څلورویشتمه یې اعلان کړي:
"تر اوسه پورې د ځنډ په اړه څه شتون نه لري ځکه چې موږ په دې ژمن یو او هڅه کوو چې په خپل وخت د تقسیم اوقات سره سم وروستي نتیجې اعلان کړو،ولې بیا هم لومړی باید ددوی فیصلې وګورو چې حجم یې څومره او تعداد یې څو ته رسیږي؟
او بل دا چې په دې برخه کې د انتخاباتو خپلواک کمیسیون له لوري څه اعتراض شته او که."
د یکشنبې په ورځ د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون اعلان وکړ، چې د لومړني نتایجو په ځنډ سره اعلان او د شکایتونو د حجم زیاتوالی ددې سبب شوی چې دا کمیسیون ونه شي کولای د خپلو څېړنو وروستی راپور د ثور په شلمه د انتخاباتو خپلواک کمیسیون ته وسپاري.
دې کمیسیون ته د افغانستان د جمهوري ریاست د انتخاباتو په اړه ټول شاوخوا دوه زره شکایتونه ور رسیدلي وو.
کله چې ددې څېړنو نتایج د انتخاباتو خپلواک کمیسیون ته ورسیږي هغوی یې باید په خپل ډیتابیس کې داخلې کړي او د هغې پر اساس بیا د انتخاباتو وروستي نتایج اعلان کړي.
بل خوا فیفا یا د افغانستان د ازادو او عادلانه انتخاباتو موسسه د انتخاباتو نتیجو په اعلان او څېړنو کې ځنډ د قانون خلاف عمل بولي او وایي چې د انتخاباتو خپلواک کمیسیون او د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون باید په بشپړ ډول له مهالویش سره سم کار وکړي.
که څه هم تراوسه وروستي نتایج نه دي اعلان شوي خو د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون څېنو مسولینو ویلي، چې ډیراحتمال دی چې د جمهوري ریاست انتخابات دویم دور ته ولاړ شي.
د دې کمیسیون چارواکو ویلي، چې که انتخابات دویم دور ته ولاړ شي نو له تخنیکي پلوه یې له قانون سره سم په دوو اونیو کې ترسره کول ستونزمن کار دی او ښایي د ثورپه څلورویشتمه دویم دور انتخابات وشي.

د ولسي جرګې رییس او ...

ترې ځمکې او نومړې غوښتي دي.
محمد اسحق الکو د یکشنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل؛ چې کابل ښاروال ورته ویلي چې، د ولسي جرګې رییس عبدالرووف ابراهیمي په کابل ښار کې ترې زر متر مربع ځمکه غوښتې؛ خو ده ترې انکار کړی دی.
ښاغلي الکو وویل چې، د ابراهیمي تر دې پخوا خپل خان او یو شمیر خپلوانو ته هم په کابل ښار کې ځمکې او نومړې اخیستې خو بسنه یې پرې نه ده کړې؛
"بل ځل یې د خپل ورور لپاره د خان لپاره بل د ده د تره زوی عبدالقادر دی؛ فیض محمد او محمد ظریف دي د دې خلکو لپاره هم له ښاروال څخه مخکې اخیستې ده او نمرې یې اخستي دي، پر دې ده بیا اکتفا نه ده کړې؛ یو زر متره مربع مخکې یې د کابل په ښار کې دا هم یوه

خبرتیا

د حزب اسلامي افغانستان ځوانانو ټولنه د اسلامي نهضت تاریخچه تر عنوان لاندې د هرې پنجشنبې په ورځ له ۸:۳۰ تر ۹:۳۰ بجو پورې درسي پروګرام پیل کړي.
له اسلام او اسلامي نهضتونو سره مینه لرونکو ورونو څخه هیله کېږي چې په دغه معلوماتي پروګرام کې ګډون وکړي.

مدرس: مولوي جانباز ((سرفراز))
ادرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل